Maahanmuuttovirasto
Migrationsverket
Finnish Immigration Service

TURVAPAIKKA-,
MAAHANMUUTTO- JA
KOTOUTTAMISRAHASTO

Euroopan unionin tuella

# د فنلنډ د مهاجرت په خدمت کې د یو داسې کس سره مرکه کول چې په EU کې یې قبولي ترلاسه کړی، بې سرپرسته صغیر ماشوم

تاسو د فنلینډ د مهاجرت ادارې لخوا یوې مرکه ته بلل شوي یاست. دا لارښوونې د مرکې په جریان کې ستاسو حقونه او مسؤلیتونه تشریح کوي. له خپل استازي سره یې یو ځای ولولئ. که کوم څه لا هم روښانه نه وي، د مرکې په پیل کې له خپل استازي یا د فینلینډ د مهاجرت ادارې کارکوونکي څخه د لا زیاتو معلوماتو غوښتنه وکړئ.

## ددې مرکې موخه څه ده؟

- تاسو په فنلنډ کې د پناه غوښتنه کړی. په مرکه کې به له تاسو څخه داسې معلومات وغوښتل شي چې په دې پرېکړې به اغیزه وکړي چې ایا ستاسو د پناه غوښتنه باید په فینلینډ کې پروسس شي او که نه. په دې مرکه کې به ستاسو د پناه غوښتنې د لاملونو باندې بحث ونشي.
- ستاسو غوښتنه ممکن و نه څېړل شي که تاسو لا دمخه په کوم بل اروپایي اتحادیې هیواد کې قبولي ترلاسه کړې وي. په دې صورت کې، د مرکې موخه دا دي چې د ددې دلیل معلوم شي چې ولې باید ستاسو غوښتنلیک بیا هم په فینلینډ کې وڅېړل شي یا ولې باید تاسو ته په فینلینډ کې د انسان دوستۍ په اساس د استوګنې جواز په ځانګړې توګه درکړل شي، یا په دې دلیل چې تاسو د انساني قاچاق قرباني شوي یاست.
- که تاسو غواړئ د نورو دلیلونو په اساس د استوګنې جواز لپاره غوښتنه وکړئ، نو تاسو باید یوه جلا غوښتنلیک وسپارئ چې د هغې لپاره باید فیس هم ورکړئ. په دغو دلیلونه کې د کورنۍ اړیکې هم شامل کېدای شي.

## په مرکه کې ستاسو حقوق څه دي؟

- ستاسو استازی به له تاسو سره مرکې ته راځي.
- تاسو حق لرئ چې مرکې ته قانوني وکیل راولی.
- که تاسو وکیل ته اړتیا لرئ، ستاسو استازی به ستاسو لپاره د مرکې لپاره یو ومومي. که ستاسو استازی د مرکې لپاره وکیل پیدا نه کړي، موږ لا هم مرکه پرته له وکیل څخه پرمخ وړلی شو.
- یو ژباړوونکی به تاسو سره په مرکه کې مرسته وکړي. ژباړوونکی به هر هغه څه چې په مرکه کې ویل کیږي په بې طرفي سره ژباړي. ژباړوونکی به یا په حضوري توګه موجود وي، یا به د ټیلیفون اړیکه یا د ویډیو لینک د ژباړې لپاره وکارول شي.
- مرکه کوونکی، ژباړوونکی، او وکیل د محرمیت ساتلو مکلفیت لري. دا په دې مانا دی چې دوی ممکن کوم بهرني اړخ ته د هغه څه په اړه چې موږ په مرکې کې پرې خبرې کوو معلومات ورنه کړي. هغه اسناد چې ستاسو پورې اړه لري هم باید محرم وساتل شي. موږ کولی شو ستاسو معلومات ستاسو د کورنۍ له غړو څخه هم پټ وساتو که چیرې د معلوماتو شریکول تاسې یا ستاسو د کورنۍ غړي په خطر کې اچوي یا تاسو ته زیان ورسوي. تاسو کولی شئ په مرکه کې موږ ته ووایاست چې تاسو په دې اړه څه فکر کوئ.
- د فینلینډ د مهاجرت اداره کولی شي ستاسو اصلي سرپرست تعقیب کړي یا د هغه لټون وکړي. ستاسو اصلي سرپرست هغه څوک دی چې ستاسو په وطن کې یې ستاسو پالنه کوله. د دې لپاره، موږ یوازې هغه معلومات کاروو چې ستاسو د سرپرست د موندلو لپاره اړین وي. کله چې د فینلینډ د مهاجرت اداره ستاسو د سرپرست لټون کوي، موږ به ډاډ ترلاسه کړو چې دا به تاسو یا ستاسو عزیزان په خطر کې نه کړي یا تاسو ته زیان ونه رسوي.

## په مرکه کې ستاسو کوم مسؤلیتونه دي؟

- دا ستاسو په ګټه ده چې په مرکه کې د هر هغه څه په اړه ربښتیا ووایاست کوم چې کېدای شي ستاسو درخواست باندي اغیزه وکړي.
- دا ستاسو په ګټه ده چې د هغو شیانو په اړه هم خبرې وکړئ کوم چې تاسو ته ستونزمن ښکاري.
- تل ریښتیا ووایاست. که داسې څه وي چې تاسو یې په یاد نه لرئ یا یې پرې نه پوهیږئ، هڅه مه کوئ چې ځواب جوړ کړئ. تاسو باید یوازې راته ووایاست چې تاسو نه پوهیږئ یا په یاد مو نه دي. که تاسو ریښتیا ونه وایاست، دا کولی شي ستاسو په کیسه باور کول خورا ستونزمن کړي.
- په مرکه کې خپل سم نوم او د زیږون نېټه ورکړئ. که تاسو د خپل هویت د تایید لپاره کوم سندونه نه لرئ، تاسو باید خپله هڅه وکړئ چې دا اسناد ترلاسه کړئ او د فینلینډ د مهاجرت اداري ته یې وسپارئ. د دې ډول اسنادو بیلګې د هویت اسناد یا د سفر سندونه دي. په هر حال، د فینلینډ د مهاجرت اداره نشي کولی تاسو دې ته اړ کړي چې د اسنادو ترلاسه کولو لپاره داسې کار وکړئ چې ستاسو یا ستاسو د عزیزانو خوندیتوب په خطر کې واچوي. که تاسو وروسته خپل شخصي معلومات بدلول غواړئ، نو تاسو به پاسپورټ یا کوم بل رسمي د پیژندني سند ته اړتیا ولرئ.
- د فینلینډ د مهاجرت اداره ستاسو شخصي معلومات او ستاسو د پناه غوښتنې دلیلونه د مهاجرت د چارو لپاره د قضیې مدیریت سیستم کې ثبتوي، کوم چې یو رسمي د ثبت سیستم دی. رسمي ثبت ته د ناسمو مالوماتو ورکول یو د سزا وړ جرم دی. په فینلینډ کې هغه کسان چې عمر یې 15 کاله یا ډیر وي د جرم مسؤلیت لري.
- د قانون له مخې، چارواکو ته د غلطو شخصي معلوماتو ورکول یو د سزا وړ جرم دی. په فینلینډ کې هغه کسان چې عمر یې 15 کاله یا ډیر وي د جرم مسؤلیت لري.
- مهرباني وکړئ په یاد وساتئ که تاسو غلط معلومات ورکړئ، یا سم معلومات پټ وساتئ، نو هغه اجازه چې تاسو ته درکړل شوې وه ممکن وروسته بیرته واخیستل شي. همدارنګه دا به ستاسو نورې چارې هم ستونزمنې کړي.

## څنګه باید د مرکې لپاره چمتووالی ونیسئ؟

- د مرکې څخه وړاندې د چاراواکو لخوا درکړل شوې لاربښوونې او بروشرونه له خپل استازي سره یوځای ولولئ.
- که تاسو ددې لپاره یو موجه دلیل ولرئ چې ژباړوونکی یا مرکه کوونکی دې سړی یا ښځه وي، د مرکې نه مخکې خپل استازي ته دا ووایاست. هغوی به د فنلینډ د مهاجرت اداري ته ستاسو غوښتنه ورسوي. د فینلینډ د مهاجرت اداره به د دې ارزونه وکړي چې آیا دلیل موجه دی که نه.
- که ستاسو روغتیا ممکن په کوم دلیل مرکه اغیزمنه کړي، نو مخکې له مخکې خپل استازي، یا د رسیپشن په مرکز کې کوم کارکوونکی خبر کړئ.
- د رسیپشن مرکز به ډاډ ترلاسه کړي چې تاسو مرکې ته ورسیږئ. تاسو باید د مرکې نېټې نه وړاندې د سفر ترتیبات له مشاورینو سره په یو ښه وخت کې تنظیم کړئ.
- د رسیپشن مرکز څخه د ځان لپاره د غرمې تیاره ډوډۍ یا د غرمې ډوډۍ لپاره پیسې وغواړئ.
- هغه ټولې دواوې راوړئ چې د ورځې په جریان کې ورته اړتیا لرئ.
- همدارنګه، د خپل درخواست لپاره ټول اسناد او راپورونه هم له ځان سره راوړئ.
- مرکې ته ناوخته مه راځئ.

## د فنلنډ د مهاجرت په اداره کې د مرکې په ورځ تاسو باید څه ترسره کړئ

- تاسو پرته له موجه دلیل څخه د مرکې نیټه بدلولی نه شئ. که تاسو د مرکې په ورځ ناروغ یاست، سمدستي خپل د رسیپشن مرکز ته خبر ورکړئ. ستاسو استازی باید د رسیپشن په مرکز کې د نرس یا ډاکټر لخوا ورکړل شوې راپور په یوه اونۍ کې د مرکې له نیټې وروسته د فینلینډ د مهاجرت اداري ته واستوي. که تاسو د موجه دلیل پرته مرکه کې ګډون ونه کړئ، ستاسو د غوښتنې په اړه پریکړه ستاسو پرته هم کیدای شي.
- ستاسو استازی او وکیل به له تاسو سره مرکې کې وي.
- کله چې تاسو د فینلینډ د مهاجرت اداري ودانۍ ته راشئ، ممکن ستاسو امنیتي پلټنه ترسره شي.
- هغه د پیرودونکو کارت امنیتي ساتونکي ته وښایئ کوم چې تاسو ته د رسیپشن مرکز لخوا درکړل شوی.
- یوازې هغه کسان چې مرکه ته بلل شوي وي، او نور هغه کسان چې مخکې د فینلینډ د مهاجرت اداري لخوا منل شوي وي، کولی شي د انتظار خونې ته داخل شي.
- که تاسو وغواړئ چې یو حمایتي کس درسره راولئ، ستاسو استازی یا حمایتي کس باید د مرکې نه مخکې په لیکلې ډول د فینلینډ د مهاجرت اداري څخه غوښتنه وکړي. که نه نو، مرکه کوونکی به د مرکې په پیل کې پریکړه وکړي چې آیا حمایتي کس ستاسو سره پاتې کیدی شي که نه. حمایتي کس یو حقوقي وکیل نه وي، او دوی ستاسو د مسایلو په څېړلو کې برخه نه اخلي.
- مرکه کوونکی د فینلینډ د مهاجرت اداره لپاره کار کوي. دا کارمند به یا په حضوري توګه هلته وي یا د ویډیو لینک له لارې ستاسو سره مرکه وکړي.
- مرکه به ثبت شي. په خونه کې یو CCTV کمره هم شته چې ویډیو ثبتوي.
- د اړتیا په صورت کې تاسو کولی شئ د مرکې په جریان کې وقفې واخلئ. تاسو کولی شئ په هر وخت کې د وقفې غوښتنه وکړئ.

## په مرکه کې څه پېښېږي؟

- مرکه کوونکی به لومړی دا تشریح کړي چې په مرکه کې څه پېښېږي او ددې داډ ترلاسه کړي چې تاسو خپل حقونه او مسؤلیتونه درک کړي دي. که تاسو په کوم څه نه پوهېږئ، نو پوښتنه وکړئ. که تاسو په ژباړوونکي نه پوهېږئ، نو وواياست.
- مرکه کوونکی به له تاسو څخه لاندې معلومات وغواړي:
  - ستاسو پېژندنه
  - ستاسو د کورنۍ او خپلوانو په اړه معلومات
  - په نورو هیوادونو کې ستاسو د استوګنې جوازونه، ويزې، او د پناه غوښتنو په اړه معلومات
  - فینلینډ ته ستاسو د سفر لاره
  - ددې دلیلونه چې ولې باید تاسو له فینلینډ څخه ونه شړل شئ («فنلند ته د ننوتلو یا پکې د پاتې کېدو څخه منع کېدل»)
  - ددې دلیلونه چې ولې باید ستاسو غوښتنه په فینلینډ کې پروسس شي که چیرې تاسو په بل هیواد کې قبولي ترلاسه کړې وي
  - تاسو د فینلینډ څخه د شړل کېدو («د هیواد څخه ویستل») او فینلینډ ته د ننوتلو څخه د منع کېدو («د ننوتلو بندیز») په اړه څه احساس کوئ
- استازی يا وکیل نشي کولی ستاسو پوښتنو ته ځواب وواېي. دوی کولی شي تاسو ته د مرکې په جریان کې مشوره درکړي او تاسو ته د هغو مهمو شیانو یادونه وکړي کوم چې تاسو مخکې ورته ویلي دي.
- پوښتنو ته په صادقانه توګه ځواب ورکړئ. ځوابونه له ځانه مه جوړوئ. که تاسو يو څه نه پوهېږئ يا په ياد کې مو نه وي، مرکه کونکي ته وواياست.
- په مرکه کې، تاسو کولی شئ د فنلینډ د مهاجرت اداري ته داسې معلومات ورکړئ چې ممکن ستاسو په قضیه کې پر پریکړې اغیزه وکړي. د بیلګې په توګه، که په فینلینډ کې تاسو د کوم جرم په تور د شک لاندې یاست، یا که تاسو په دې هیواد کې د کوم جرم په تور محکوم شوي یاست، دا ممکن د فنلند د مهاجرت په اداري کې ستاسو د قضیې په پروسس باندې اغیزه وکړي. که اړتیا وي، د فینلینډ د مهاجرت اداره به تاسو ته په مرکه کې فرصت درکړي چې د دې مسلې په اړه خپل نظر څرګند کړئ.
- مرکه کوونکی به د کمپیوټر په وسیله د مرکې په جریان کې د هر چا خبرې ولیکي. دا یاداښتونه د "پروټوکول" په نامه یادیږي. د مرکې په پای کې، ژباړوونکی به پروتوکول تاسو ته ولولي. که تاسو په پروټوکول کې کومه تېروتنه ووينئ، هغوی ته وواياست. تاسو کولی شئ پروټوکول ته نور معلومات هم اضافه کړئ. له دې وروسته، پروتوکول به لاسلیک شي او ستاسو استازی به يې یوه کاپي ترلاسه کړي.

## د فنلند د مهاجرت اداره څنګه خپله پریکړه نیسي؟

- که تاسو وروسته نور معلومات ورکول غواړئ، نو هغه خپل استازي يا وکیل ته وسپارئ، او هغوی به يې د فینلینډ د مهاجرت اداري ته واستوي. موږ به ستاسو د قضیې په اړه په ټیلیفون کې خبرې و نه کړو ځکه چې موږ د زنګ وهونکي هویت نه شو تاییدولی.
- د فنلنډ د مهاجرت خدمت به د هغو معلوماتو او اسنادو پربنسټ چې تاسو په مرکه کې چمتو کړي ستاسو د قضیې په اړه پریکړه وکړي. د فینلینډ د مهاجرت اداره ممکن د خپلې پریکړې د ملاتړ لپاره له عامه سرچینو څخه هم معلومات ترلاسه کړي.
- که داسې پریکړه وشي چې تاسو باید بل هیواد ته واستول شئ ("د ننوتلو یا پاتې کیدو مخنیوی")، تاسو کولی شئ د دې پریکړې په اړه محکمې کې د استیناف غوښتنه وکړئ. تاسو کولی شئ له محکمې څخه دا هم وغواړئ چې تر څو محکمه ستاسو استیناف پروسس کوي تاسو ته په فینلینډ کې د پاتې کیدو اجازه درکړي.
- که ستاسو غوښتنه په فنلنډ کې ونه څېړل شي، تاسو ممکن له فینلینډ څخه وشړل شي (فلند ته د ننوتلو یا پاتې کیدو څخه منع کېدل) یا تاسو ته ویل کیدی شي چې فینلینډ ته نشئ راتلی (د ننوتلو بندیز).